**تاریخچه وزارت ارشاد، حج و اوقاف**

به اساس ضرورت مبرم جامعه افغانی و تصمیم حکومت وقت مبنی بر ایجاد اداره ای تحت عنوان اداره عالی اوقاف برای اولین بار در سال ۱۳۴۹ هجری شمسی به صفت تصدی غیر انتفاعی عام المنفعه در مربوطات وزارت جلیله عدلیه تأسیس و استقامت های کاری آن را مسایل و موضوعاتی چون: (ثبت و راجستر املاک و جایداد های وقفی، استرداد و بدست آوردن املاک و جایداد های وقفی، اموال منقول وغیر منقول اماکن متبرکه، مزارات، تنظیم امور و انسجام مساجد و غیره) تشکیل داده که در یک تعمیر کرایی و اقع مکروریان اول به فعالیت آغاز نمود.

رئیس افتخاری اداره عالی اوقاف شخص اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پادشاه وقت و رئیس عامل آن سید حکیم کمال کتوازی بود که امور مربوطه این اداره عالی در ولایات توسط څارنوال ها به پیش برده می شد.

این اداره در سال ۱۳۵۲ هجری شمسی بعد از تغیر رژیم شاهی به جمهوری منحل و صرف با بقای دو مدیریت عمومی اوقاف و مدیریت عمومی حج به تشکیل صدارت عظمای وقت مدغم گردید. در سال ۱۳۵۷ محترم زین الله "منلی" به صفت رئیس عامل آن تقرر حاصل نمود.

در سال ۱۳۵۸ هجری شمسی این اداره ارتقاء و بنام ریاست شؤون اسلامی مسمی گردید که در رأس آن دوکتور سعید افغانی منحیث اولین رئیس شؤون اسلامی تعیین و توظیف گردید و در آن وقت تعمیر فعلی وزارت از بودجه شؤون اسلامی خریداری و ریاست شؤون اسلامی در آن جابجا گردید.

در سال ۱۳۶۲ هجری شمسی ریاست شؤون اسلامی به وزارت شؤون اسلامی ارتقاء نمود و عبدالولی "حجت" بحیث اولین وزیر شؤون اسلامی تقرر حاصل نمود، که بعد عبدالجمیل قریشی، صدیق "سیلانی"، عبدالغفور"باهر"، مولوی ارسلا "رحمانی" و سخی داد "فایز" به ترتیب بحیث وزیران شؤون اسلامی تقرر حاصل نمودند.

در سال ۱۳۷۶ هجری شمسی در زمان حاکمیت طالبان این وزارت تنزیل و بنام معینیت حج و اوقاف در تشکیل وزارت جلیله عدلیه مدغم گردیده که شورای علماء و روحانیون نیز در چوکات این معینیت فعالیت داشتند. در سال ۱۳۷۸ هجری شمسی این معینیت بار دوم به وزارت حج و اوقاف ارتقاء نموده و مولوی عبدالشکور بحیث وزیر حج و اوقاف، سپس بطور مسلسل هر یک حافظ محب الله و سید غیاث الدین آغا من حیث وزرای این وزارت تقرر حاصل نمودند.

در سال ۱۳۸۱ هجری شمسی وزارت امر بالمعروف و نهی عن المنکر وقت به ریاست تنزیل و تحت عنوان ارشاد اسلامی در تشکیلات وزارت حج و اوقاف مدغم و این وزارت بنام وزارت ارشاد، حج و اوقاف مسمی گردیده و در رأس آن مولوی محمد حنیف "بلخی" بحیث وزیر ارشاد، حج و اوقاف، سپس محمد امین "ناصریار"، پوهاند نعمت الله "شهرانی" و محمد صدیق "چکری" اشغال وظیفه نمودند. بعد از اواخر سال ۱۳۸۸ دکتور محمد یوسف "نیازی"، فیض محمد "عثمانی" و مولوی عبدالحکیم "منیب" به صفت وزرای ارشاد حج و اوقاف تقرر حاصل نمودند.

در سال ۱۳۹۹ محترم محمد قاسم حلیمی به صفت سرپرست وزیر از سوی مقام عالی ریاست جمهوری معرفی و بعد از اخذ رأی نمایندگان ملت در اوایل ماه قوس ۱۳۹۹ به صفت وزیر ارشاد، حج و اوقاف تقرر حاصل نموده است.

وزارت ارشاد، حج و اوقاف از مراحل ابتدائی تنظیم و سازماندهی امور مربوطه اوقاف، حج و زیارت، مساجد و نشرات را بردوش داشته نظر به ضرورت جامعه سنتی و افغانی ما بخش های دیگر منجمله ( ریاست انسجام امور قراء، ریاست اسناد و ارتباط، ریاست پالیسی و انسجام، ریاست اداری ومالی) نیز در تشکیل این وزارت افزود شده، که فعلاً وزارت با داشتن تشکیل یک وزیر، چهار معینیت، شش مشاوریت در داخل تشکیل و پنج مشاوریت خارج از تشکیل که معاشات شان از طرف وزارت اقتصاد اجرا میگردد و همچنان با یکجا شدن ریاست احتساب ستره محکمه با این اداره تعداد ریاست های مرکزی آن به (۲۳) ریاست و دو آمریت میرسد که جمعاً به تعداد (۸۳۳۰) نفر پرسونل به شمول ائمه و خطبای مساجد و واعظین تکایا و حسینیه ها در سراسر کشور فعالیت دارد. علاوه بر آن بر اساس نیاز مندی تعدادی ریاست های دیگر نیز در این وزارت جذب گردید که میتوان از آن جمله ریاست تدقیق و مطالعات علوم اسلامی، ریاست مجمع علمی نیز نام برد. هکذا واحدهای دومی این وزارت نیز در ولایات تحت نام ریاست های ارشاد، حج و اوقاف فعالیت می نمایند.

**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت تاریخچه**

د افغاني ټولنې د مهمې اړتیا او د وخت حکومت د پرېکړې پراساس په 1349 هجري لمریز کال کې د لومړي ځل لپاره د اوقافو په نوم یوه لویه اداره د عدلیې جلیله وزارت په چوکاټ کې د غیر انتفاعي عام المنفعه تصدي په توګه رامینځته شوه او لومړی ځل یې په مکروریانو کې په کرایې ودانۍ کې خپل فعالیت پیل کړ. ددې اداري کار (د اوقافي ملکیتونو او جایدادونو ثبت او راجسترکول، د اوقافي املاکو ترلاسه کول، د مقدسه ځایونو، زیارتونو منقول او غیر منقول مالونو او جوماتونو د چارو انسجام او تنظیم) و.

د اوقافو د عالي ادارې افتخاري رییس د وخت پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه و. او ددې ادارې چارې سید حکیم "کتوازی " سمبالولې چې په ولایتونوکې د څارنوالانو له لوري د دې ادارې اړوند چارې اداره کېدلې.

په 1352 هجري لمریز کال کله چې شاهي رژیم په جمهوري نظام بدلون وموند، دا اداره د صدارت په تشکیل کې مدغم شوه او په دوه عمومي مدیریتونو بدله شوه، چې یو د اوقافو عمومي مدیریت او بل د حج عمومي مدیریت و.

په 1357 هجري لمریز کال کې زین الله " منلی " یې د اجراییوي رییس په توګه وګمارل شو او په 1358 هجري لمریز کال کې یادې ادارې ارتقاء وکړه او د شؤون اسلامي ریاست په نوم ونومول شوه. دوکتور سعید افغاني د شؤون اسلامي لومړی رییس وټاکل شو او په دغه وخت کې یې د شؤون اسلامي ریاست له بودجې څخه د وزارت اوسنۍ ودانۍ په بیه واخیسته او د شؤون اسلامي ریاست هلته ځای پرځای شو.

په 1362 هجري لمریز کال د شؤون اسلامي ریاست په شؤون اسلامي وزارت تبدیل شو او عبدالولي "حجت" د لومړي ځل لپاره د دې وزارت وزیر وټاکل شو او د هغه له استعفا وروسته عبدالجمیل " قریشي، صدیق "سیلاني "، عبدالغفور" باهر"، مولوي ارسلا "رحماني " او سخي داد"فایز" په پرلپسې توګه د شؤون اسلامي وزارت د وزیرانو په توګه دندې ترسره کړې.

په 1376 هجري لمریز کال کې د طالبانو د واکمنۍ پرمهال دا وزارت تنزیل او د حج او اوقافو د معینیت په نوم د عدلیې وزارت په تشکیل کې شامل شو. دغه وخت د علماوو او روحانیونو شورا هم ددې معینیت په چوکاټ کې خپل فعالیت ترسره کاوه.

په 1378 هجري لمریز کال کې د دوهیم ځل لپاره یاد معینیت په حج او اوقافو وزارت تبدیل شو، چې مولوي عبدالشکور، حافظ محب الله او سید غیاث الدین آغا په ترتیب سره په دغه وزارت کې د وزیرانو په توګه دنده ترسره کړه.

په 1381 هجري لمریز کال کې د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت ریاست ته تنزیل او د اسلامي ارشاد تر عنوان لاندې د حج او اوقافووزارت په تشکیل کې مدغم شو او یاد وزارت د ارشاد، حج او اوقافو په نوم ونومول شو، چې مولوي محمد حنیف" بلخي، محمد امین " ناصریار " پوهاند نعمت الله " شهراني" او محمد صدیق "چکري" په پرلپسې ډول د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د وزیر په توګه د وزارت چارې پرمخ یوړلې.

د 1388هجري لمریز کال را پدېخوا ډاکترمحمد یوسف " نیازی"، فیض محمد " عثماني " او مولوي عبدالحکیم "منیب "د ارشاد ، حج او اوقافووزارت د وزیر په توګه خپلې دندې ترسره کړې.

په ۱۳۹۹ هجري لمریز کال کې محمد قاسم حلیمي د افغانستان اسلامي جمهوری دولت د عالي مقام له لوري د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د سرپرست په توګه معرفي شو، چې د ۱۳۹۹هجري لمریز کال د لیندۍ میاشتې په لومړیوکې یې د ملت استازو له لوري د باور رایې د ترلاسه کولو وروسته د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د وزیر په توګه دنده پیل کړه.

د ارشاد ، حج او اوقافو وزارت له لومړیو مرحلو راهیسې، د اوقافو، حج او زیارت، د جوماتونوانسجام او نشراتود تنظیم اړونده چارې پرمخ وړلې او ددې ترڅنګ زموږ د افغاني او سنتي ټولنې له اړتیا سره سم په نورو برخو کې ځینې ریاستونه لکه (د قاریانو چارو د انسجام ریاست، د اسنادو او اړیکو ریاست، د پالیسي او انسجام ریاست، اداري او مالي ریاست) ددې وزارت په تشکیل کې زیات شول ، چې اوسمهال د ارشاد ، حج او اوقافو وزارت یو وزیر، څلور مرستیالان ، شپږ سلاکاران په داخل د تشکیل کې او پنځه سلاکاران له تشکیل څخه د باندې لري، چې معاشونه یې د اقتصاد وزارت له لوري ورکول کیږي.

همدارنګه د سترې محکمې د احتساب ریاست له یو ځای کېدو سره ددې وزارت د مرکز ي ریاستونو شمېر(۲۳) درویشتو ریاستونو ته رسېږي او دوه امریتونه لري. چې په ټول هېواد کې د ارشاد، حج او اواقافو وزارت د جوماتونو د امامانو، خطیبانو، حسینیه وو او د تکایاوو مسؤلینو په ګډون ټول(8330 ) کسان په دې وزارت کې په دندو بوخت دي.

ددې سربېره یو شمیر نور ریاستونه هم د اړتیا پراساس پدې وزارت کې جذب شوي، چې پدې برخه کې د تحقیقاتو او اسلامي علومو ریاست او د علمي مجمعې ریاست د یادولو وړ دي. دغه راز د وزارت دویمي واحدونه هم د ارشاد ، حج او اوقافو ریاستونو ترنامه لاندې په ټولو ولایتونو کې فعالیت کوي.